بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه،23ربيع الثانی، ۱۴۴۶هـ | ۲۰24/10/26م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۶/10

مطبوعاتي اعلاميه

## د نیویارک ټایمز وروستی مقاله د افغانستان د مجاهدینو ترمنځ د امریکا د تفرقې اچولو سیاست بله بېلګه ده

نیویارک ټایمز د روان کال د اکتوبر په ۲۴مه د مقالو یوه ټولګه خپره کړه چې د افغانستان د کورنیو چارو له اوسني وزیر سره د مرکې پر بنسټ لیکل شوې ده. له دغو مقالو د یوې سرلیک «ایا د افغانستان تر ټولو ډیر تر تعقیب لاندې شبهنظامي اوس د بدلون لپاره غوره هیله ده؟» دی. د یادو مقالو هڅه دا ده چې د تفرقې اچولو له لارې د مجاهدینو ځینې مهمې څېرې د امریکا د ګټو خواته کاږه کړي.

د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر وړاندې هم د امریکا او غرب د دغه ډول سیاستونو په اړه خبرداری ورکړی و. د ۲۰۲۳م کال په لومړیو کې حزب التحرير «*د مجاهدینو پر وړاندې د غرب نوې او خطرناک روایت*» تر سرلیک لاندې یو کمپاین ترسره کړ چې په هغه کې یې د امریکا د هغه منافقانه سیاست په اړه خبرداری ورکړی و چې غواړي مجاهدین په «افراطي طالبانو» او «منځلارو طالبانو» وویشي. په دې اړه یو ۱۱ مخیز مستند فایل هم شریک شوی و چې څنګه رسنۍ او د غرب فکري مرکزونه دغه تفرقه اچوونکی سیاست مخته وړي.

امریکا د افغانستان د مجاهدینو وحدت د خپل سیاسي، استخباراتي او ارزښتي نفوذ لپاره خنډ ګڼي. ځکه خو هڅه کوي چې دوی په «افراطي او بدو طالبانو» او «منځلارو او ښو طالبانو» وویشي او له «منځلارو طالبانو» سره چې د امریکا په فکر «معتدل او ښه دي»، تعامل وکړي. د نیویارک ټایمز په مقاله کې هم د ځینو څېرو لپاره له هڅوونکو او انګیزه ورکوونکو اصطلاحاتو کار اخیستل شوی چې هغوی تعامل ته وهڅوي؛ دغو کسانو ته د «عملپال» او «معتدل» په توګه اشاره شوې ده.

کوم اصطلاحات چې د غرب سیاسیون او رسنۍ د حاکم نظام د چارواکو لپاره کاروي، هیڅکله ساده او بې معنی نه دي. د دغو اصطلاحاتو تر شا لویه سیاسي اجنډا پټه ده. ځکه چې استعماري قدرتونه د تاریخ په اوږدو کې تل د خپلې ولکې ټینګولو لپاره ډلې په بېلابېلو نومونو ډلبندي کوي او د هرې یوې لپاره جعلي هویت جوړوي. د دغه کار موخه لومړی د خلکو په ذهن کې د تفرقې رامنځته کول او په اوږدمهال کې «د قدرت پر سر د تفرقې او کشمکش رامنځته کولو» لپاره لاره هوارول دي. دا تګلاره د مشهور سیاست «تفرقه واچوه او حکومت وکړه» مصداق ده.

د سړې جګړې پر مهال امریکا له دغې تګلارې په استفادې د «منځلارو» او «افراطي» کمونیستي اړخونو ترمنځ توپیر رامنځته کاوه او په دې هڅه کې وه چې په کمونیستي هیوادونو کې له «منځلارو رهبرانو» یا حکومتونو سره د تعامل له لارې د شوروي د نفوذ پر وړاندې مقابله وکړي. دا تګلاره همداراز د فلسطین او سوریې د مجاهدینو او د شوروي یرغل په وخت کې د افغانستان د مجاهدینو پر وړاندې هم تکرار شوه. غرب په «افراطي» او «معتدل» د دوی د ویشلو او له «معتدل» سره د تعامل له لارې د هغوی اسلامي اجنډا کمزورې او دوی یې منحرف کړل.

موږ پوهېږو چې یو جهادي شخصیت هم د تفرقې پلوی نه دی؛ خو باید د غربي پلانونو پر وړاندې هوښیار وو او حذر ترې وکړو. ځکه چې غربیان د مداهنت په حال کې دي او غواړي مجاهدین هم دا کار وکړي. دوی ځینې شخصیتونه هدف ګرځوي او هغوی د افغانستان او غرب ترمنځ پُل ګڼي. داسې چې دا کسان د «بدلون» لپاره تر ټولو غوره هیله ښیي. خو حزب التحرير – ولايه افغانستان پرته له دې چې د چا تزکیه وکړي، د مجاهدینو ځینې رهبران د دوی د اخلاص له امله د اساسي بدلون لپاره هیله ګڼي؛ هغه بدلون چې پایله به یې د ثاني راشده خلافت تاسیس، د اسلام بشپړ پلي کول، نورې نړۍ ته د اسلام حمل او د امت وحدت وي.

**فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِينَ وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ** (القلم، ۱۲-۸)

**ژباړه:** *«نو، د دروغجنو [خبره] مه منه. د دوی خوښېږي، چې جوړجاړی او نرمي ورسره وکړې، چې دوی هم نرمي او جوړجاړی درسره وکړي. او د هر قسم خور سپک (سړي) مه منه؛ هغه چې ډېر عیبونه لټوي او هر [چېرې] په چوغلۍ (خبرچینۍ) پسې ځي؛ او د خير ښېګڼې د چارو ډېر منع کوونکی، تېری کوونکی [او] ګناهګار دی.»*

**د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحرير رسمي ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info

د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي ویبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ایمیل پته
info@hizb-afghanistan.org